د خپل اصل حیثیت په اعتبار سره مسلمان داعي (بلونکی) دی او نور ټول قومونه د دوی مدعو (بلل شوي) دي. یعنې مسلمان د الٰهي دین امانتدار دی او د دوی دا دنده او مسؤلیت دی چې هغه دغه امانت ټولو انسانانو ته ورسوي. د دغې فریضې په اداء کولو کې د دوی د بریالیتوب راز هم په دنیا او هم په آخرت کې پټ دی.

دا کومه ساده خبره نه ده. دا د یو ډیر زیات نازك خدایي مسؤلیت معامله ده. مسلمان خپل دغه مسؤلیت یوازې هغه وخت اداء کولای شي، کله چې هغوی د دې مسؤلیت غوښتنې وپیژني او هغه په خپل ژوند کې په پوره توګه استعمال کړي. د داعي مسؤلیت یوازې په دعوتي کردار سره تر سره کیدای شي. د دعوتي کردار پرته د دعوت مسؤلیت اداء کول داسې ناشونی دی لکه د یوې ښځې لپاره د مورولی له شفقت او زړه سوي پرته د مور ذمه واري او مسؤلیت ترسره کول.

د قرآن پاك په الفاظو کې، د دعوت او بلنې پیل له نصیحت (الأعراف ٦٨) څخه کیږي. یعنې د مدعو لپاره یو اړخیزه خیر غوښتنه د دعوتي اخلاقو تقاضا ده چې د داعي په زړه کې به د خپل مخاطب (مدعو) لپاره یوازې مثبت احساسات وي. له منفي احساساتو څخه به د هغه زړه بالکل خالي وي چې دې ته اړخیزه خیر خواهي ویل کیږي. د دغه ډول یو اړخیزه خیر خواهۍ پرته داعي خپل دعوتي مسؤلیت اداء کولای نشي.

د دې دنیا نظام داسې جوړ شوی دی چې دلته به تل یو کس ته له بل کس څخه او یوې ډلې ته به له بلې ډلې څخه د ترخو تجربو مخې ته راتلل وي. د یوه کس کومه خبره به د بل لپاره د راپاریدلو او احساساتي کیدو سبب جوړیږي. دا د فطرت نظام دی او د فطرت د نظام بدلون هیڅکله د یو

چا لپاره شونی نه دی. په داسې حالت کې د داعي په داخل کې د خپل مخاطب (مدعو) لپاره د یو اړخیزه خیر خواهۍ احساس یوازې هغه وخت برقرار پاتې کیدای شي کله چې هغه د یو اړخیزه اخلاقیاتو په اصولو باندې کلک ولاړ وي. خلکو سره د ده چلند د نورو د عمل د اغیزې لاندې جوړ نه شي، بلکې هغه د خپل کړي فکر د اصولو لاندې ځان جوړ کړی وي. هغه په بشپړه توګه د عمل د غبرګون له نفسیاتو څخه خالي وي.

مسلمان داعي د ډلې حیثیت لري. په دې اعتبار سره د مسلمانانو لپاره جایز نه دي چې هغوی د نورو قومونو په خلاف د شکایت او احتجاج (Protest) تحریک وچلوي. په دعوتي شریعت کې د شکایت او مظاهرې لپاره هیڅ ځای نشته، ځکه چې که مسلمان د کوم قوم په خلاف د شکایت او مظاهرو تحریک چلوي، هغه د حقیقت په اعتبار سره یو مخاطب او مدعو قوم جوړیږي. د مسلمانانو لپاره جایز نه دي چې هغه خپل مخاطب (مدعو) قوم سره د دښمن په شان معامله وکړي. مسلمانانو ته په هر حال کې، او له هر قوم سره همیشه معتدلې (میانه رو) اړیکې برقرار ساتل پکار دي، ځکه چې د معتدلو اړیکو ساتلو سره په چاپیریال کې د الله تعالیٰ طرفته د بللو کار کیدای شي. چیرته چې د مسلمان او نامسلمان په منځ کې نورمال اړیکې نه وي، هلته د دعوت کار سرته رسول ممکن نه دي.

د قرآن په ۳۳ نمبرسورت کې یو حکم په دې الفاظو کې راغلی، (وَدَعْ أَذَاهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ) (احزاب ٤٨ آیت). یعنې د دوی تکلیف رسونه له پامه وغورځوه. او په الله تعالیٰ اعتماد وکړه. ددې آیت مطلب دا دی چې له انسان څخه مه غواړه، له الله تعالیٰ څخه وغواړه. د غوښتنو طریقه پریږده، د دعا طریقه غوره کړه، له همدې امله هر

# د مسلمان اصل حیثیت



پیغمبر خپل مخاطب قوم ته ویلي چې: (لا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مَالاً) (هود ۱۱). یعني زه له تاسې څخه د هیڅ یوې مادي ګټې غوښتونکی نه یم. زه یوازې د ورکولو والا یم، نه دا چې زه له تاسې څخه د کوم شي اخستونکی.له دې څخه معلومه شوه چې د مدعو (مخاطب) قوم په مقابله کې د حقوقو (Rights) په نوم د غوښتنو تحریك چلول، د پیغمبرانه سنتو له مخې له سره جایز نه دي.

لکه څنګه چې معلومه ده چې په محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت او رسالت سلسله ختمه شویده، خو کوم شی چې ختم شوی دی هغه پیغمبري او رسالت دی نه د پیغمبر کار، دا یو حقیقت دی چې اوس کوم نوی پیغمبر راتلونکی نشته، خو تر کومه ځایه چې د پیغمبر د دعوتي میسیون خبره ده هغه به همیشه او د هر قوم په منځ کې دوام لري. په دې اعتبار سره مسلمان د نبوت د ختمیدو څخه وروسته د نبوت په مقام باندې دی. یعني د هر مسلمان لپاره ضروري ده چې هغه د پیغمبر په دعوتي میسیون کې د خپل وس او طاقت په اندازه خپله برخه اداء کړي. دا دعوت د مسلمان لپاره د فرض حیثیت لري (البقره ۱٤۳). کوم خلک چې دغه فرض اداء نه کړي، د هغوی لپاره سخته اندیښنه ده چې د خدای جل جلاله په نزد هغه د اخري زماني د پیغمبر (محمد صلی الله علیه وسلم) د امتي کیدو حق له خپله لاسه ورکړي.

مولانا وحیدالدین خان

**Center for Peace and Spirituality**
1, Nizamuddin West Market, New Delhi-110 013
Tel. 011-41431165, Mob. 09999944119
info@cpsglobal.org
www.cpsglobal.org, www.goodwordbooks.com